Hospice général

# د LASLP عمومي کتنه

د ټولنيزې هوساينې او د فقر پر وړاندې د مبارزې قانون (LASLP) به په 1 جنوري 2025 نافذ شي. دا قانون هغه ملاتړ چمتو کوي چې د هغو خلکو پر ټولنيز او مسلکي ادغام تمرکز کوي چې په لنډمهاله توګه يو ستونزمن حالت کې وي.

- ټولنيزه هوساينه يو حق دی او ورته لاسرسی د لږ تر لږه اداري شرايطو سره اسانه کړی شوی دی.
- د Hospice général لخوا وړانديز شوی ټولنيز ملاتړ د يوې جامع ارزونې پر اساس دی چې د يو داسې پلان رامنځته کول ممکنه کوي چې ستاسو ځانګړو اړتياو (کور، روغتيا، روزنه، کار، او نور) پوره کولو لپاره ډيزاين شوی وي.
- ځوانانو، کورنيو او ماشومانو ته ځانګړی ملاتړ ورکول کيږي.

## لا اسانه ادغام

د Hospice général کارکونکي خپلواکۍ ته ستاسو بيرته ستنيدو کې ستاسو ملاتړ کوي او تاسو ته وړانديز کوي:

- هغه فعاليتونه چې موخه يې د ټولنيزو اړيکو ساتل او پياوړي کول دي؛
- د مهارتونو ارزونه او د مسلک لارښود؛
- لنډ او اوږد مهاله روزنيز کورسونه؛
- د سوداګرۍ انټرنشپونه څو تاسو ته وړتيا درکړي چې نوي مهارتونه ترلاسه کړئ.

## د کار موندنې مراعات

دا مهمه ده چې د هر هغه مسلکي فرصت څخه پوره ګټه پورته کړئ چې رامنځته کيږي، ځکه چې دا به تاسو ته دا وړتيا درکړي چې خپله کاري وړتيا وساتئ او شبکه مو پراخه کړئ.
کله چې تاسو کار کوئ، حتی که نيم وخته وي، ستاسو د معاش برخه ستاسو له مالي مرستې څخه نه کميږي او له همدې امله ستاسو مياشتنی عايد ډيريږي.
لومړي 300- فرانکونه چې تاسو يې ترلاسه کوئ به ستاسو د ساتلو لپاره وي، او تاسو به د خپل معاش 15% بقايا هم وساتئ.

## ستاسو د بوديجې اداره کولو کې د لا زياتې خپلواکۍ لپاره يوه ځلي پيسې (ټولې پيسې په يو ځل ورکول)

دا يو ځلي پيسې، چې تاسو يې د خپلو اړتياو او هيلو سره سم مديريت کوئ، تاسو ته هره مياشت تاديه کيږي.

- **اساسي يو ځلي پيسې** ستاسو ورځني اړتياوې او ستاسو د کورنۍ اړتياوې (خواړه، جامې، تليفون، بريښنا، تفريحی فعاليتونه، سفر، او نور)، ستاسو اداري لګښتونه، او ستاسو د ټولنيز او مسلکي ادغام اړوند فعاليتونه پوښي.
- **د ماشوم يو ځلي پيسې** ستاسو د ماشومانو اړتياو (اکاډميک ملاتړ، تفريحي فعاليتونو، غير نصابي فعاليتونو، او نور) اړوند ځانګړي لګښتونو پوښلو لپاره دي.

نور لګښتونه، لکه کرايه او د روغتيا پاملرنې لګښتونه، د Hospice général لخوا ستاسو د لګښتونو پر بنسټ، د ځينې شرايطو سره سم، ورکول کيږي.

## په اداري توګه ساده يا اسانه کول

د مياشتنۍ تاديې وړ پيسې عموماً په هرو 6 مياشتو کې محاسبه کيږي. که ستاسو وضعيت بدل شي، تاسو بايد سمدستي مونږ ته وواياست. Hospice général په منظم ډول له تاسو څخه ستاسو د اداري او مالي اسنادو غوښتنه نه کوي؛ دا اړوند اشخاص توانوي چې پر خپل ټولنيز او مسلکي ادغام پلان تمرکز وکړي.

*د نورو جزياتو لپاره، laslp.hospicegeneral.ch ته لاړ شئ*

Mieux vivre ensemble à Genève
hospicegeneral.ch